# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

د ترکيي د انقلابي ترانه ويونکی «جم کاراجا» ترانه

ژباړه: فرهاد وياړ

۱۵ جون ۲۰۱۳

## هغوې د ولس څپانده سيل ودرولی نشي

د طيب اردغان د فاشيستي حکومت په ضد د ترکيي د ولس پاڅون د نيوليبراليستي اقتصادي سياستونو، د ناټو لپاره مړييتوب، د بی عدالتی، وزګارتيا، بيوزلی او په سوريه کي د ترکيي د لاسوهني په خلاف شعارونو سره مل شو. دي پاڅون د نړی د آزادي غوښتونکو پام ځان ته راوګرځو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي ميليونونو تنو له پاڅون کوونکو سره د ملاتړ اعلام وکړ. په همدې موخه، ما د ترکيي د انقلابي ترانه ويونکي، «جم کاراجا»، لاندېني ترانه پښتو ته راژباړلی ده.

سرتيري يې، قاضيان يې، څارنوالان يې

ټول د ولس په ضد دي

قوانين يې، مقررات يې، پريکړی يې

ټول د ولس په ضد دي

مجلي يې، ورځپاڼي يې، خپروني يې

ټول د ولس په ضد دي

خو يو له دې به هم دوی ونشي ژغورلئ

خو يو له دې به هم دوی ونشي ژغورلئ

هغوې د ولس څپانده سيل ودرولی نشي

هغوې د ولس څپانده سيل ودرولی نشي

د پاڅون ضد ګاړي يې، هتکړۍ يې، وسلې يې

ټول د ولس په ضد دي

زندانونه يې، نظارت خاني يې، شکنجې يې

ټول د ولس په ضد دي

د ونډې بازارونه يې، شرکتونه يې، اقتدار يې
ټول د ولس په ضد دي
خو يو له دې به هم دوی ونشي ژغورلئ
خو يو له دې به هم دوی ونشي ژغورلئ
هغوې د ولس څپانده سيل ودرولی نشي
هغوې د ولس څپانده سيل ودرولی نشي